# اتل او اتلتوب

د پښتو ادب د تحقيق د مقالاتو سلسله دې شپږمې مقالې ته راورسېده، او هم به دغسې پسې اوږدې سي، زما مقصد په دغو پلټنو کې دا دئ چې د "پښتو ادب" د تاريخ لومړني مواد دلته راغونډ کړم، هغه وخت چې بيا دغه تاريخ د مضمون او کيف او څنګه والي له لامله کښل کېږي، بايد دغه عناوين ټول پکښې داخل وي.

ښايي چې د مقالې د عنوان کلمات ښاغليو لوستونکو ته نابلده وايسي، نو لومړی بايد دغه کلمات څه نه څه تحليل کړه سي، په پښتو ژبه کې اتل، پهلوان، بطل نابغه ته وايي، نو اتلتوب بايد د بطولت او نبوغ او پهلوانۍ معاني ولري، چې په دغه مقاله کې هم زما مقصد دغه شی دئ.

هر ملت ځانته ځيني ملي کيسې او افسانې لري، چې د دغه ملت روحي مزايا او خصايص او هم حياتي او جامعوي ښېګڼې له دغو کيسو څخه ښه معلومېږي، او سړی کولای سي چې له دغو کيسو او نکلو څخه د دوی د پسيکولوژۍ ژور او عميق معلومات ځانته حاصل کړي، نو ځکه د دې عصر نوي پوهان تل دغسي ملي کيسو ته د اهميت په سترګه ګوري او هر کله يې ټولوي، او سره راغونډوي يې. زه به په دغه ليك کې د پښتو د ملي کيسو د بطولت خوا لږ څه رڼه کړم، او تر يوه ځايه به د غور کتنه هم ورته وکړم.

## اتلتوب (بطولت) :

اتل هغه فرد دئ، چې د خپلې جامعې له افرادو څخه په عقلي مواهبو او خلقي او جسدي صفاتو کې ممتاز او وتلی وي او په دوی کې لوړ مقام ولري، او دغه ټول خپل فطري مواهب د جامعې په خدمت او مشرتوب او قيادت کې صرف کړي.

اتل هر کله په تاريخ کې خورا ژوندی او ښه نوم پرېږدي، او د ملت افراد يې په لوړو صفاتو ستايي، ځکه چې دی تل په ټولنه او جامعه کې اوسي، نو د دوی د صفاتو او اخلاقو يوه برجسته نمونه وي، او مثل اعلی يې ګڼل کېږي، د اتل وجود تل د جامعې د آمالو نماينده وي او د دوی بارز صفات په خپلو اعمالو کې ښکاره کوي.

مثلاً يو ملت چې غښتلی، او ننګيالی او جنګي وي، د دوی بطل او پهلوان هم په دغو صفاتو منځته راوزي، يوه ټولنه چې اجتماعي فساد پکښې ډېر وي، نو د دوی اتل هم "مصلح" وي، د يوه شاکني او کښته ملت اتل او پهلوان "راهب" وي ! په هغو ملتو کې چې د ژوندانه موقعيت يې د جګړو او تصادماتو سروړ وي، تل داسي اتلان پيدا کېږي چې په شجاعت او زړه ورتوب ستايلي کېږي دوی تل له غليمانو سره جګړې کوي او خپله بهادري او پهلواني په ميدانو کې ښکاره کوي، ځيني خارق العاده اعمال او اقدامات په شجاعت کې دوی ته منسوب وي، چې هغه راز کارونه بل څوك نه سي کولای او په دې ډول دوی د خپل ملت، جامعوي مزايا او خصايص ښه ښکاره کوي، د ملتو په عمر کې داسي اوقات "د ابطالو زمانه" بلل کېږي، او داسي اتلان تر مرګ وروسته د خلکو له خوا په تعظيم ليدل کېږي، صفات او مواهب يې تل تر تله يادوي، اوږدې اوږدې کيسې په دوی پوري جوړوي.

دا کيسې په لوی سر کې له حقيقته سره لږ اړه لري، خو وروسته د خيال په صنعت ښکلي کېږي، او خورا هم د خيال په دنيا کې لوړېږي او لوئېږي، حتی چې ځيني ابتدايي او ساده ملل خپل ابطال د ارباب انواعو په ډول هم ستايي، مثلاً پخوانيو مصريانو (اوزپريس) او د ده زوی او خور دغسي ګڼل، او پخوانو يونانيانو هم دغسي عقايد درلودل، د حربي ابطالو دوره په

يوه جامعه كي هغه وخت ختمېږي چي دوی مدنيت ته نژدې سي او د امن او سلم په دوره كي داخل سي، دغه وخت نو د دوی ابطال د مصلحينو او پوهانو او علماوو په ډول ظهوركوي او ټول مشاهير يې د مدني او اجتماعي خدماتو له لاري څخه خپل اتلتوب څرگندوي، مثلاً د يونان خورا پخواني ابطال ټول حربي مشاهير دي مگر وروسته په فلسفه او پوهنه او علم كي هم ډېر اتلان او فلاسفه او پوهان لري.

د هوميروس اشعار ټول د حربي ابطالو په ستاينه ډك دي وروسته چي هلته علم او فلسفه ډېرېږي نو د اساطيرو پر ځای علمي مباني پرېږدي او د ايلياد او اوديسې پر ځای د سقراط د شاگردانو فلسفه خپرېږي.

د عربو او انگليسانو په ادب كي هم دغه محيطي ماثر ښه ليدل كېږي، تر اسلام دمخه د عربو جاهلي ادب په داسي افسانه ډك دئ لكه د يونان ادب چي په هوميري اشعارو كي تصوير كړي دي، ابطال يې ټول په جگړو او قتال كي نمايش كوي، او لويي لويي شخړي او جگړې پكښي بيانېږي، لكه يونانيان چي په دلفي او اوليمپيا كي پر خپل اساطيري ادب راټولېږي، دغسي هم عرب پخپلو اسواقو كي په جاهلي ادب كي اساطير لولي. دوی خپل مشهور ملاحم او جگړې په ادب كي ستايي، مثلاً جاهلي ادب تل د "دي قار" او نور د عربو مشهور ملاحم يادوي او د خپلو اتلانو په دلاوري او زړه ورتوب وياړي، الاعشي هسي وايي :

لـما امالـــوا الى النـشاب ايديهم<br>ملنا ببيض فضل ا لـهام يقتطف

و خيل بكرفما تنفك تطحـنهم<br>حتى تولوا و كادالـيوم ينتصـف

يعني : "چي دوی غشيو ته لاسونه واچول نو يې په سپينه ورځ، دښمن ماتاوه، او سپرو به يې غشي ټولول، او د بكر سپرو خپل ژوبل تر نيمي ورځي پوري ورسول څو بيرته راگرزېدل".

انگليسانو هم دغه دوره تېره كړېده، څو چي په جزيره كې استقرار موند، ادب يې دغسي آثار لري، چي يوه مشهوره جگړه يې د "بيولف" ده او په دغه جگړه كي يو د دوی امير پر هسي يوه هايل او سهم جن وحشي حيوان باندي غالب سو، چي د گاونډيو اميرانو پر ټاټوبو به يې حمله كوله، په انگليسي ادب كي دا عصر ډېر پټ او د خرافاتو ډك دئ، د "آرتهر" كيسه دوني مشهوره سوې ده چي د "بيولف" كيسه په شهرت كي هغې ته نه رسېږي، ولي چي هغه كيسه ساده ده او د قرون وسطی ډېر خصايص او د فروسيت دودونه پكښي راغلي دي.

هغه وخت چي د نوي علم تر خپرېدلو وروسته نوی انگليسي ادب خپور سو، نو د دغه عصر نوو شعراوو هم له تېرو دورو څخه پخپلو افسانو او كيسو كي ځيني دخيل عناصر واخيستل خو په دغه يې لا اكتفا ونكړه د يونان د ابطالو د عصر او د رومان د خرافاتو د خيال نخښي يې هم پكښي گډي كړې، نو ځكه اوس انگليسي ادب د بطولت او اتلانو په ستاينه ډك دئ، د شكسپېر روايات دغه عناصر لري، او د آرتهر او د ده د سپرو كيسې د سپنسر او نيسون په آثارو كي اغېزي لري او شيلي هم په ډېرو ځايو كي د يونان له ابطالو څخه استعاره كوي، د مقيد پروميتيوس په قصيده كې اثر ښه ښكاري. "سكوت" هم د منځنيو پېړيو د بطولت مناظر پخپلو كيسو كي څرگندوي.

په حقيقت كي د انسان په طبيعت كي د ابطالو د لوړتيا او د دوی د كيسو او اعمالو د اروېدني ذوق سته، نو ځكه تل د نوي عصر ادباو په فني ډول د ادب پر ډگر له هغو كيسو څخه خوند اخيستی، او هم يې خپلو ادبي آثارو ته له هغو څخه گټه

ورکړېده، بل علت يې هم دا دئ چي په کيسو کي تل ابطال د انساني خلق د اعلی مثل او نمونې په ډول ستايل کېږي، او هغه دلاوري او شجاعتونه چي اتلان يې د ژوندانه په مختلفو ځايو کي ښکاره کوي، قصصي شعراء او ادباء يې خلکو ته د نمونې په ډول وړاندي کوي، مثلاً شکسپير د قيصر او بروتس او ماثيو ارنولډ د سهراب او رستم کيسي اخلي، او د دوی بطولت په داسي ډول ښکاره کوي چي ويونکی استفاده ځني وکړي، شکسپير د وطنيت د روح د ترزيق له پاره د پنځم هانري بطولت د سلو کالو په جګړه کي په ښه ډول څرګندوي.

کله کله داسي هم کېږي چي د معاصرو مشاهيرو اخلاق او سجايا او د نبوغ صفات په انګليسي افسانو کي رمزاً را اخيستل سوي وي د دغي ژبي په نثر او نظم کي داسي مثالونه ډېر دي.

سپنسر د "ښکلي ملکې" په کيسه کي دغسي کړي دي، او شکسپير د هملټ په نامه د "ارل اسکس" شخصيت څرګند کړی دئ، سودي او کامبل او تنيسون او ماکولي هم خپل ابطال لکه نلبسون او ولنګتون او کلاپو پخپلو کيسو کي رمزاً ښوولي دي، کارليل خپل کتاب "اتلان" فقط د اتلتوب په بيان کي ترتيب کړی دئ.

په دې ډول انګليسي ادب د ابطالو په ستاينه ډك او يوه لويه برخه هم له دې خوا څخه لري، اما عربي ادب هم د جاهلي دورې د ابطالو مهمي برخي لري او تر اسلامي دورې وروسته هم د دوی حربي او ديني ابطال ډېر دي، مثلاً حضرت خالد = او حضرت عمر = او حضرت علي = او نورو ...

مګر تر اسلام وروسته د عربو په ادب کي د ابطالو دوره تقريباً ختمېږي، او ځکه چي ځيني داسي امراء او متسلط خلك ډېر سول چي دوی د ستاينې وړ نه وه، او فقط شعراو به د غوړه مالۍ له لامله ستايل، نو د ابطالو د ستاينې اشعار هم مبتذل او بې خونده سول.

خلاصه : د ابطالو ستاينه هم د انګليسي ادب هم د عربي ادب غوره برخه ده، او غالباً د ټولو ملتو آداب دغه برخه لري، او دا د انساني طبيعت خاصه ده، چي هر ولس او هره ډله پخپلو مشاهيرو او اتلانو وياړي، او پوهان او ادباء تل د ابطالو د اخلاقو او خصايصو په ستاينه او څرګندونه د دوی لوړ سجايا او غوره مزايا نورو ته تبليغ کوي.

## د پښتو ادب ابطال :

د پښتو ادب يو خورا خوږه او مهمه برخه هغه کيسې او افسانې دي چي له قديمه په پښتنو کي رواج دي، دا نکلونه په هره کوټه او حجره او ديره کي چي پښتانه سره ټولېږي ويلي کېږي، او د پښتنو زلمو د ملي مجلسونو خوږه مشغله ده.

پخپله دغه افسانې هغه وخت چي د پښتو ادبي تاريخ ليکل کېږي، يو مهم باب ځانته مخصوص کوي، د ادب او ژبي له لامله ډېر مهم مواد لري، د شعر اقسام او د ملي موسيقۍ الحان او اصوات او بړغونه ټول په دغو افسانو کي ساتل سوي دي، دا افسانې اکثري د مينې او عشق چاشني لري، او ضمناً ډېر ملي دردونه او عنعنات او رسوم پکښې خوندي دي.

عموماً يوه ښځه او يو نارينه د کيسې ابطال وي، دغه دوه تنه د اتلتوب کريکټر او د پښتونوالي اخلاق لري، دوی هر وخت په شجاعت، وفا، سپېڅلتوب، عفت او پاك عشق کي مثل اعلی وي، او د کيسو په مختلفو پردو او نندارو کي ځانونه د ملي اخلاقو د اتل په شان ښکاره کوي. کله کله چي کيسه په ماوراء الطبيعه ډول ځيني د اتلتوب خواص او مزايا ښيي، هلته دغه "اتلان" خارق العاده کارونه هم کوي.

داستان د عشق او مينې په خوږو نندارو کي شروع کېږي، د اتلانو سپېڅلي اخلاق، او لوړي کارنامې او خارق العاده ننګياليتوب او دلاوري هر ځای ښکاره کېږي، په پای کي هم عموماً دواړه اتلان د عشق او مينې پر مشهد سر بږدي او دواړه د

عشق پر لار قرباني کېږي، په پښتنو کي د شهئ او ګلان، د فتح خان بړېڅ او رابيا، د سيف الملوك او بدرو، د مومن خان او شيرينو، د موسى خان او ګلمکۍ، د ښادي خان او بيبو، د آدم خان او درخو نکلونه او کيسې ټول دغه مزايا لري.

فتح خان د خپلو ملګرو سره ځي، د عشق د سوز او ګداز په ميدان کي هسي لوړ فتوحات کوي او داسي سختي جګړې په برياليتوب کټي چي د پښتونوالي د شجاعت او جنګي اقتدار مثل اعلى ګڼل کېږي، د ده ملګري پردل او کرمى هم د ملګرتيا او وفا او رفاقت لوړي نمونې دي، هغه وخت چي کرمى د فتح خان په جلو کي ځان قربانوي نو داسي ناره کېږي :

آفرين کئ پر دا هسي نوکر باندي

ځان يې واچاوه د دې بادار د وړاندي

هغه وخت چي پر ميدان يوازي فتح خان پاتېږي، او نور ملګري تر ده دمخه ځانونه قربانوي، نو فتح خان غواړي چي تر رابيا دمخه جنګ ته ولاړ سي، مګر رابيا هم پښتنه مېرمن ده، کله پاتېږي.

سهار دئ، فتح خان لا له خوبه نه دئ ويښ سوى چي رابيا د قربانۍ ميدان ته سپره سوه، او پر فتح خان يې ناره وکړه :

سر د سره پلنګه هسك کړه فتح خانه !

رابيا ګلي پنده ورکړه سپيرېږي !

دلته د بطولت پر ميدان رابيا تر فتح خان هم دمخه کېږي، او دا کيسه په ښه ډول د پښتنو شجاعت او د ملګرو رشتيانۍ ملګرتيا څرګندوي.

د مومن خان او شيرينو داستان هم دغسي شېرين دئ، مومن خان د عشق پر لار خارق العاده اقدامات کوي، په هند کي له لويه اپي سره غېږ په غېږ کېږي، په پای کي په داسي ډول هغه لوى اپي وژني چي د ده بطولت ښه ښکاري.

هغه وخت چي مومن خان په سفر ځي، نو شېرينو چي دى يو انسان ګڼي او انسان هر وخت د نفساني اميالو ملعبه وي، په دې ډول دى تنبيه کوي، چي خپل ملي افتخار او د عشق او ميني وعده ښه وساتي، داسي ورته وايي :

د هندوستان و لور ته مه ځه

د هندوستان نجوني لولۍ بند به دي کړينه

مګر مومن خان خپل د پښتونوالي عزم او عفت هسي ښکاره کوي:

د هندوستان و لور ته ځمه

د هندوستان نجوني زما خوندي مندي دينه

د وداع پر وخت پښتنه مينه خپل ننګيالي مين ته د پښتونوالي په دود هسي ډاډ ورکوي :

مومنه ځه الله دي مل سه

دا شينکی خال او زلفي تا لره ساتمه

مسافري په ډاډه زړه کړه

خولګۍ مي ستا ده که زه خاوري سم مينه

لکه په انګليسي او نورو آدابو کي چي تل اتل خارق العاده کارونه کوي، او په دې ډول خپل بطولت او نبوغ څرګندوي دغسي هم مومن خان چي هند ته رسېږي، هلته يو خارق العاده ښامار دئ، چي د ښار پېغلي يې ټولي اپېللي دي، خو آخر نو د پاچا د لور وار دئ، مومن خان پر دغه وخت د اتل په ډول ميدان ته ورځي او د اپي او ښاماره سره نښلي او په داسي ډول هغه اپي وژني چي ټول ورته ارياني، په دې ننداره کي مومن خان د يوه غښتلي او خورا شجاع او بريالي اتل وضعيت

مومي، خپله استغنا او د طبیعت لوړتیا او همت او د عزم جګوالی او د عشق سپېڅلي احساسات ښه ښکاره کوي، ځکه چي د خپلي محبوبا شېرینو له پاره د پاچا لور او ټولي مادي ګټي او نعم پرېږدي او د پښتنانه زلمي په توګه د شېرینو د میني او وعدې په یاد بیرته خپل وطن ته مخ رانیسي.

د مومن خان مرګ په ناکامي کي دئ، چي خپل کور ته راځي په نافهمي کي وژل کېږي، شېرینو چي پښتنه مینه او باوفا محبوبا ده هم دلته خپل بطولت په وفا او رشتین حب سره داسي ښکاره کوي چي د خپل مین پر جنازه ساه ورکوي، او د عشق پر مشهد ځان واری کوي.

تاسي دمخه ولوستل چي : بطل او پهلوان تل په ملت کي اوسي او هم هر کله د هغه ملت د اخلاقو او ښېګڼو نماینده ګي کوي او د اولسي مزایاوو مثل اعلی ګڼل کېږي، د پښتنو د روایاتو او افسانو ټول اتلان هم دغسي دي، او دوی د ملي اخلاقو د ښکاره کولو بارز شخصیت لري. آدم خان او درخانۍ، جلات خان او شمایله، ښادي او بیبو او نور د افسانو پهلوانان تل د پښتونوالي په څرګندونه کي مسابقه لري، او د دوی اعمال او کارنامې هم د نورو د تقلید له پاره ښه درسونه ګڼل کېږي.

په دغو افسانو کي اثري ښځي د مېړو کارونه کوي، پر میدان توري کاږي، رقیبان ماتوي، ظفر مومي او د کیسو دغه برخي مخصوصاً د غور وړ دي، او هم ډېري خوږې وي.

د موسی جان او ګلمکۍ د داستان په پای کي (تانو) یوه ښځه پهلوانه منځ ته راځي او د سهېلي سره چي په کیسه کي د شر او بدۍ نماینده دئ، توره اخلي، سهېلی په ډېر مضحك او بې ننګه ډول ځان ځني کاږي، مګر تانو وايي :

سهېلیه توره اخله راولاړېږه !
سهېلیه د ښځي خیال راباندي مه کړه
سهېلیه ښځه نه یم مه شرمېږه !

وروسته چي پر سهېلي باندي غلبه کوي نو دلته ګویا خیر شر مغلوب کوي، او تانو چي د عفت او ننګ نماینده ده، سهېلي غوندي بې ننګه شهواني او خبیث شخصیت وژني، نو تانو د ده پر ملګرو هسي ناره کوي :
سردارانو تاسي ویښ یاست که بیده یاست؟

سر راپورته کئ له خوبه !
سهېلی خو مو اوس خوري د لحد خاوري

عموماً د پښتنو ملي کیسې او روایات که طبیعي وي او که غیر طبیعي، د ښېګڼي او بدۍ یوه دائمي جګړه مصوره کوي، مثلاً په غیر طبیعي داستانو کي تور دېب او سپین دېب ذکر کېږي، چي تور دېب یې هر کله بدۍ، ناروا وي، او توري تیارې ښیي، مګر بالعکس سپین یې د رڼا او ښېګڼي او احسان نماینده وي.

په طبیعي روایاتو کي هم کټ مټ دا کیفیت لیدل کېږي، پخپله د روایت او حکایت اتلان د ښېګڼو پر خوا وي هر کله دوی انساني ښه اخلاق څرګندوي، په دوی کي د شجاعت، وفا، بهادرۍ، احسان، مروت، پاك عشق نخښي موجودي وي، مګر یو دوه تنه د تیارې او ظلمت او بدخلق نماینده ګان هم وي، په دې جګړه کي عموماً خیر او ښېګڼه ډېر موانع په مخ کي لري او د ښېګڼي او خیر او ښه خوی خاوندان هم تل په زحمت او دایمي جهد او زیار اخته وي، مګر په پای کي خیر غلبه مومي، بریالی کېږي او د شر طرفداران په فضیحت او رسوایي مبتلا کېږي.

د پښتنو د داستانو او افسانو اتلان یو بل بارز شخصیت هم لري او په کیسه کي عموماً د دوی کریکټر او اخلاق د اجتماعي ښېګڼي له پاره قرباني ښکاره کوي. یو ملګری د بل له پاره ځان واری کوي او هر کله د بل ګټه تر خپلي شخصي

ګټې له مخه وي.

دا اجتماعي فضیلت د پښتنو د اخلاقو او ښو اجتماعي احساساتو نماینده ګي کوي، او دا ښیي چې د پښتونوالي په سپېڅلې دنیا کې شخصي ګټه تر اجتماعي ښېګڼې وروسته ده، د "مرد او نامرد" داستان دا اجتماعي اخلاقي مظاهر ښه ښیي، او د مېړه اخلاق او کریکټر ښه څرګندوي، ځکه چې مرد هر کله د ملګري د ښېګڼې له پاره ځان ستړی کړی دئ. دغسې په اکثرو داستانو کې دا اخلاقي ننداره واضحه لیدله کېږي او فرد د جمعیت په ګټه کې فاني وي.

کابل مجله، ۱۳۲۳ کال، ۱۲مه ګڼه، ۱–۵ مخونه.